جمهوری اسلامی افغـانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د مشرانو جرګې د ټاکنو کړنلارې

افغانستان- ۱۳۸۵-

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## محتويات


١. د ټاکنو د کارکوونکو کړندود.................................................................٣
٢. د ټاکنو په هکله.......................................................................................٤
٣. د مشرانو جرګې د ټاکنو کارکوونکي.........................................................٥
٤. د ټاکنو د بهير په ترڅ کې حاضر کسان......................................................٦
٥. د ټاکنو توکي.........................................................................................١٠
٦. له ټاکنو د مخه.......................................................................................١٣
٧. د ټاکنو د جريان ترتيب...........................................................................١٥
٨. د ټاکنو د جريان اوو پړاوونه.....................................................................١٧
٩. د مشرانو جرګې د ټاکنو د پايلو(م-٠٣) فورمې ډکول..................................٢٣


مـلــــــونــــــه


لومړی مل – د مشرانو جرګې د ټاکنو جدول...................................................٢٣
دويم مل- د مشرانو جرګې د ټاکنو د لوازمو د بکس لست...................................٢٤
دريم مل- د مشرانو جرګې د نوموني م-٠١ فورمه.............................................٢٥
دريم مل – د ولايتي شورا د غړيو ليستم-٠٢ : .......................................... ٢٦-٢٧
څلورم مل- د ټاکنو د پايلې م-٠٣ فورمه....................................................٢٨-٣٠
پنځم مل – د نوموني د بيرته اخيستولو ن-٠٣ فورمه ......................................... ٣١-٣٢
شپږم مل- شکايتونه........................................................................... ٣٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټــــاکنو خپلواک کميسيون

جمهوری اسلامی افغــانستان
کميسيون مستقل انتخـــابات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Election Commission**

---

حقوقي معيارونو موخه د کانديدانو د نوموني، نوم ليکنې، سياسي کمپاين، رايې ورکولواو رای شمېرنې په ګډون، له پيله تر پايه د ټاکنو په ټول بهير کې د ټاکنو د کارکوونکو د کړنو لارښوونه ده. د ټاکنو ټول کارکوونکي بايد دې معيارونو ته غاړه کېږدي او په ښه نيت او سالم قضاوت سره يې عملي کړي. هېله ده خبر اوسئ چې د ټاکنو خپلوا ک کميسيون کولای شي د ټاکنو کارکوونکي د کړندو د څخه د سرغړونې له امله مجازات کړي.

د ټاکنو کارکوونکي:

١. د اساسي قانون، د ټاکنو ټول قوانين، او د افغانستان نور ټول قوانين او د انتخاباتو د خپلوآک کميسيون او د دغه دفتر د دارالانشاء له خوا د صادرشوو دستورالعملونو، لارښوونو او کړنلارو رعايت کوي او په بې طرفی، بې پرې او پرته له سياسي تړاو څخه يې عملي کوي.
٢. د خپل توان تر اخري اندازې، د ټاکنو د بهير په ټولو پړاوونو کې د ټولو کسانو د بيان او د نظر وړاندې کولو، د ټولنو جوړولو، غونډو جوړولو او تګ راتګ د ازادۍ بنسټيز حقونه باوري کوي.
٣. له رايه ورکوونکو، کانديدانو، د خبري رسنيو يا مطبوعاتو د غړيو او نورو ټولو کسانو سره د درناوي، بې پرې توب او سياسي ناپيیلتوب په شکل چلند کوي.
٤. په کاليو يا عمل، کړو وړو يا خبرو کې د کوم سياسي ګوند يا کانديد ملاتړ نه څرګندوي.
٥. له کتونکو، استازيو، رايه ورکوونکو، کانديدانو او د مطبوعاتو او خبري رسنيو د غړو سره د قانون په چوکاټ کې د همکاري له لارې په خپلو ټولو پرېکړو او دندو کې له ريښتينولۍ او روڼتيا څخه کار اخلي.
٦. د خپل مقام څخه شخصي ګټه نه اخلي او نه يې د اخيستلو هڅه کوي، اود ټا کنو د خپلو اک کمپسييون او رد هغه د دارالانشاء پرته له هيچا څخه سوغاتونه، پيسې او نور امتيازات نه اخلي؛
٧. خپلې ټولې هغه ګټې د انتخاباتو خپلواک کميسيون ته څرګند وي چې په دغه کميسيون کې د دوی له دندو سره تړلې او په تضاد کې وي او بايد له داسې لارې څخه د دغو تضادونو د هواري لپاره ټول ګامونه پورته کړي چې د دوی له دندو سره سمون ولري.
٨. د رای پاڼې د پټوالي (سريتوب) درناوی کوي؛
٩. د هر کس محرميت او محرم معلومات خوندي ساتي؛
١٠. له ټولو کسانو سره د ټولنيزې منشاء او شخصی مقام په پام کې نيولو پرته او جنس، مذهب، عقيدې، عمر او معيوبيت ته په پام سره باعزته او احترامانه چلند کوي؛
١١. د دندو له پيل کولو څخه وړاندې په ټولو روزنيزو غونډو کې برخه اخلي او له ټولو هغو اړوندو کړنلارو سره ځان اشنا کوي چې د انتخاباتو د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا ورکول کېږي.

ما پورتنی کړندود ولوست، پرې پوهېږم او غاړه ورته ږدم.

په .........................................د ١٣٨٥ کال د...................................................................نېټه

د ............................................له خوا لاسليک شو.........................................................................

د ټاکنو د کارکوونکي نوم د ټاکنو د کارکوونکي لاسليک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲. د ټاکنو په هکله

*د ټاکنو د قانون له مخې هره ولايتي شورا د جوړيدو په ۱۵ ورځو کې د ننه مشرانو جرګې ته دوه استازي انتخابوي. يو استازی به بشپړه څلور کلنه موده تيروي او يو به په مشرانو جرګه کې د منځمهاله مودې لپاره (چې له څلورو کلونو څخه به زياته نه وي) غړيتوب ولري.*
***که د مشر انو جرګې يو غړي استعفا کوي،مري او يا د خبلو دندو د اجرا توان و نه لري نو په مشرانو جر ګه کې و نومورې ولايتی شورا ته د مشرانو جرګې لپاره د ټاکنو د خپلواک کميسون د کړندود سره سم بنايي چې د قانون سره سم يو بل غړی و ټاکی تر څو چې د هغه د خدمت پاتی موده پوره کړی.***

### *د ولايتي شورا لومړۍ غونډه:*

ولايتي شورا په خپلې لومړۍ غونډې کې جوړيږي، په دې شرط چې د غړو ټاکلی شمېر يا د مجلس نصاب (د ولايتي شورا له نيم څخه زيات غړي) موجود وي. تر ټولو په عمر پوخ غړی د غونډې مشري کوي او د همدې غونډې په ترڅ کې ولايتي شورا خپل رئيس، د رئيس مرستيال او منشي انتخابوي. د ټاکنو ولايتي مسؤول به په لومړۍ غونډه کې حاضر وي، چې د مشرانو جرګې د ټاکنو په بهير باندې رڼا واچوي او د کړنلارو او د مشرانو جرګې د نوموني د م-۰۱ فورمې په اړه مالومات وړاندې کړي
دولا يتی شورا له لوری و مشرانو جرګی ته د يو کس پر ځای د بل غړی د ټاکلو لپاره اړونده ولايتی شورا بنايی چی د تاکنو د خپلواک کميسون له خوا د ټاکلی ولايتی شورا و رييس ته د بيا انتخابولو په هکله د رسمی خبرتيا ليک تر سپارلووروسته دا وو ورځو په ترځ کی انتخابا تی غونډ ه وکړی.
***د نوموني موده:***
د ولايتي شورا غړی بايد د مشرانو جرګي په ټاکنو کې د کانديد په توګه د ودرېدو لپاره، د کانديدېدو پر ورځ لږترلږه ۳۵ کلن وي او د ټاکنو ولايتي مسؤول ته د مشرانو جرګې د نوموني م-۰۱ فورمې په سپارلو سره بايد خپل ځان ونوموي. د ټاکنو ولايتي مسؤول د نوبت له مخې د نوموني په دوره کې د نوموني غوښتنليکونه منې چې د ولايتي شورا له لومړۍ غونډې څخه پيليږي او د مشرانو جرګې د ټاکنو د رای پاڼې د جوړيدو سره د ټاکنو د جريان پر ورځ پای ته رسيږي. د ولايتي شورا ټول هغه پر شرايطو برابر غړي به د مشرانو جرګې د ټاکنو په رای پاڼه کې راڅرګند شي، چې د مشرانو جرګې د نوموني فورمې يې په ټاکلي وخت کې سپارلې وي.

### *د ټاکنو جريان:*

د مشرانو جرګې ټاکنې داسې پلان شوې چې د ولايتي شورا له جوړېدو څخه لس ورځې وروسته ترسره کيږي، په دې شرط چې ټاکلی شمېر غړي حاضر وي (لږترلږه د ولايتي شورا دوه پر درې برخه). د ولايتي شورا سرپرست د ټاکنو د ولايتي مسؤول تر لارښوونې لاندې د ټاکنو بهير اداره کوي.

د رايې ورکولو په لومړي پړاو کې د مشرانو جرګې د دواړو استازو د غوره کولو لپاره، يو کانديد بايد د ولايتي شورا د حاضرو غړو له نيمايي څخه زياتي رايي ترلاسه کړي. دغه غوره شوی کانديد به د بشپړې مودې استازی وي. هغه کانديد چې دويمې زياتې رايي ترلاسه کوي د منځمهاله استازي په توګه غوره کيږي. که دوه يا زيات کانديدان يو برابر دويمې زياتې رايې ترلاسه کړي، نو د منځمهاله استازي د غوره کولو لپاره د دوی تر منځ پچه اچول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې په لومړي پړاو کې هيڅ استازي انتخاب نشو، د دويم پړاو ټاکنې د هغو دوو کانديدانو تر منځ ترسره کيږي چې تر ټولو زياتې رايي يې ترلاسه کړې وي. که له دوو څخه زيات کانديدان تر ټولو زياتې رايي وګټي، نو د دوی تر منځ د ددو کانديدانو د معلومولو لپاره پچه اچول کېږي.

### ۳. د مشرانو جرګې د ټاکنو کارکوونکې :

د اوامرو لړی:

- ← د ټاکنو ولايتي مسؤول له کړنلارو سره سم د ټاکنو د ترسره کېدنې د باوري کولو عمومي مسؤوليت لري.
- ← د غونډې سرپرست د ټاکنو د ولايتي مسؤول له لارښوونې سره سم د ټاکنو د جريان د ترسره کېدو مسؤوليت په غاړه لري.

### د سرپرست مسؤوليتونه:

١. د ټاکنو د ولايتي مسؤول له لارښوونې سره سم د مشرانو جرګې د ټاکنو بهير پرمخ بيايي.
٢. د ټاکنو د بهير په ترڅ کې نظم ساتي.
٣. د ستونزو د حل او د کړنلارو په اړه د لارښوونې لپاره د ټاکنو ولايتي مسؤول ته رپوټ ورکوي.
٤. ځان ډاډه کوي چې د ټاکنو د بهير په ترڅ کې ټول حاضر کسان د ټاکنو د بهير په اړه پوره مالومات لري.

**سرپرست څوک دی؟**
د ولايتي شورا رئيس د مشرانو جرګې د ټاکنو سرپرستي کوي البته که دی کانديد يا ناسوب نه وي. که چېرې رئيس سرپرستي نشي کولی، مرستيال د سرپرست په توګه دنده ترسره کوي البته که دی هم کانديد يا ناسوب نه وي. که د رئيس مرستيال هم ونشي کړی چې سرپرستي وکړي، د ولايتي شورا تر ټولو مشر غړی چې کانديد نه وي د سرپرست مامور په توګه دنده پرمخ

***د ټاکنود ولايتي مسؤول مسؤوليتونه***

١. د ولايتي شورا په لومړۍ غونډه کې د مشرانو جرګې د ټاکنو د بهير په اړه رڼا اچوي او مالومات وړاندې کوي.
٢. د کړنلارو له مخې د ټاکنو د سمې ترسره کېدنې ټول مسؤوليت په غاړه اخلي.
٣. د ضرورت له مخې سرپرست مامور ته د ټاکنو د بهير په ترڅ کې لارښوونه کوي.
٤. د مشرانو جرګې د ثبت په کتاب کې ټولې هغه پېښې ثبتوي چې د ټاکنو په فعاليتونو باندې اغيزه ولري.
0. د مشرانو جرګې د نوموني په م-١٠ فورمه کې د نوموني غوښتنليکونه ترلاسه کوي، د ولايتي شورا له غړو سره د فورمو په ډکولو کې د ضرورت له مخې مرسته کوي او ځان ډاډه کوي، چې فورمې په سم ډول ساتل او لېږدول کېږي.
1. د ټا کنو په وخت کې يا دداښتونه نيسي.
2. د مشرا نو جرګې د ټا کنو په وخت کې شکا يتو نه را غونډ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**<u>د ټا کنو ولا يتي مسؤل نشي کولا ی</u>** :

چي د را يي د محرميت په اړه هيڅ راز روغه جوړه وکړي.

***يادونه:*** *که چېرې د ټاکنو ولايتي مسؤول حاضر نه وي، د ټاکنو دخپلواک کميسيون د دارالانشاء يو بل کارکوونکی ټاکل کيږي، چي د هغه مسؤليتونه په غاړه واخلي.*

> **د مشرانو جرګې د ټاکنو د بهير څنډېدل:**
> دا د ټاکنو ولايتي مسؤول مسؤوليت دی چې د مشرانو جرګې د ټاکنو بهير وځنډوي که چېرې د هغه/هغې په باور بهير د کړنلارو سره سم منصفانه يا ناپيلی نه وي. د ټاکنو ولايتي مسؤول واک لري چې بهير وځنډوي که چېرې:
> - ✓ سرپرست لارښوونه نه مني يا په ناپيلي ډول عمل نه کوي.
> - ✓ ولايتي شورا لارښوونو ته غوږ نه ږدي يا بې نظمه شي.
> - ✓ د رايو محرميت له خطر سره مخامخ شي.
> - ✓ کړنلارې نه رعايت کېږي.

***د ټاکنو افغان ولايتي مسؤول او سرپرست بايد:***

- ✓ ټل بې پرې چال چلند وکړي. بې پرې چال چلند د آزادو او منصفانه ټاکنو د بهير له پاره اړين دی؛
- ✓ له ټولو اړوندو کړنلارو سره بلد وي او باوري کړي چې په سم ډول کړنلارې عملي کيږي؛
- ✓ حساس توکي خوندي وساتي او د مالوماتو د ساتلو او زيرمې کړنلارې په سمه توګه رعايت کړي؛
- ✓ د ولايتي شورا د غړو مؤدبانه او ابرومندانه خدمت وکړي.

***<u>٤. د ټاکنو د بهير په ترڅ کې حاضر کسان:</u>***

***هغه کسان چې د ننوتو اجازه لري:***

لاندينې کسان اجازه لري چې د ټاکنو د بهير په ترڅ کې حاضر وي. ټول کسان بايد خپلې رسمي پيژندپاڼي ټل د بهير په ترڅ کې ښکاره او عکس لرونکي پيژندپاڼه هم له ځان سره ولري.

- د ټا کنو د خپلواک کميسيون او دارالانشاء کارکوونکي (او هغه کارکوونکي چې د ټا کنو د خپلوا ک کميسيو ن يا دارالانشاء ټاکلي وي)؛
- د ولايتي شورا غړي؛
- د ټاکنو د ولايتي کمېسيون غړي؛
- باورليک لرونکي کتونکي؛
- د خبري رسنيو باورليک لرونکي استازي؛
- ځانګړي باورليک لرونکي ميلمانه؛
- باورليک لرونکي ژباړونکي؛
- امنيتي مسؤلين ( يوازې هغه وخت چې د نظم راوستو لپاره راوبلل شي).

<u>باورليک لرونکي استازي ددي اجازه نلري چې د ټاکنو د بهير په ترڅ کې حاضر وي.</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټاکنو د ولايتي کمېسيون دنده:**

د ټاکنو ولايتي کمېسيون د ټاکنو د خپلواک کميسيون له دارالانشاء سره کار کوي څو باوري کړي چې د ټاکنو بهير د اساسي قانون، د ټاکنو د قانون او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د دستورالعملونو او کړنلارو سره سم پلی کيږي. د ټاکنو ولايتي کمېسيون به د ټاکنو د بهير لپاره د شاهد په توګه حاضر وي او بايد د ټا کنو د خپلواک کميسيون د ټاکنو د کارکوونکو له کړندود سره سم عمل وکړي. د ټاکنو ولايتي کمېسيون غړی به هم د ټاکنو د پايلو م-۰۳ فورمه د شاهد په توګه لاسليک کوي.

د ټاکنو ولايتي کمېسيون کولی شي چې لاندې کارونه وکړي:

- ✓ د ټاکنو د بهير په ترڅ کې يادداشتونه واخلي؛
- ✓ د ټاکنو له ولايتي مسؤول سره د کړنلارو د رعايت اړوند اندېښنې راپورته کړي؛
- ✓ د مشرانو جرګې د ټاکنو اړوند شکايتونه تر لاسه کړي اود ټاکنوخپلواک کميسيون ته د غور لپاره ليږي.

د ټاکنو ولايتي کمېسيون <u>نشي</u> کولی چې:

- ✓ د ټاکنو په بهير کې لاسوهنه وکړي يا يې د مخنيوي سبب شي.
- ✓ د رايو محرميت په خطر کې واچوي، که په هر ډول وي.

**د کتونکو د نده:**

د ټاکنو باورليک لرونکي کتونکي د ناپيلو نړيوالو او کورنيو نادولتي مؤسسو غړي دي. کتونکي د ټاکنو د بهير په احتساب کې مهم رول لوبوي.

کتونکي اجازه لري چې:

- ✓ د ټاکنو بهير وګوري، په دې شرط چې د رايې محرميت په خطر کې وا نه چوي.
- ✓ د ټاکنو ولايتي مسؤول يا د شورا له سرپرست سره اندېښنې راپورته کړي.
- ✓ د مشرانو جرګې د ټاکنو د ثبت په کتاب کې انديښنې ثبت کړي.
- ✓ د ټاکنو د شکايتونو کمېسيون ته ليکلی شکايت وړاندې کړي.
- ✓ د مشرانو جرګې د رايه ورکوونکو د لست له م-۰۲ فورمې او د ټاکنو د پايلو له م-۰۳ فورمې څخه مالومات وګوري او ثبت کړي.

کتونکو ته اجازه نشته چې:

- ✓ د ټاکنو ولايتي مسؤول، د شورا سرپرست يا د ټاکنو د ولايتي کمېسيون د غړي د دندو مخنيوی وکړي؛
- ✓ د ټاکنو کومو توکو ته لاس ورووړي؛
- ✓ د رای پاڼې د نښه کولو په وخت کې د ولايتي شورا غړی وګوري؛
- ✓ نيغ په نيغه د ولايتي شورا له غړي سره د ټاکنو د جريان له پای څخه وړاندې خبري وکړي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ د مشرانو جرګې د ټاکنو يو کانديد ته چې په هره طريقه وي کمپاين وکړي. په دې کې د هرې ټاکنې د کانديد يا سياسي ګوند د انتخاباتي نښان يا سمبول ښودل يا د غونډې کوټې ته د کمپاين د مالوماتو راوړل شامل دي.

***د خبري رسنيو د استازو د نده:***

د خبري رسنيو باورليک لرونکي استازي خلکو ته د ټاکنو د ترسره کېدو په اړه رپوټ ورکوي. د خبري رسنيو استازي د ټاکنو د جريان له داسي برخې څخه فلم يا کاپي نشي اخيستلی، چې محرم وي يا داسي شخصي معلومات څرګندوي چې عام خلک بايد پرې خبر نشي (لکه د تماس نېولو شخصي مالومات).

د خبري رسنيو استازي اجازه لري چې:

- ✓ د غونډې کوټې ته ننوزي که چېرې دا کار د بهير د اخلال سبب نه ګرځي.
- ✓ د ټاکنو د بهير کتنه وکړي په دې شرط چې دوی د رايې محرميت په خطر کې وا نه چوي.
- ✓ د ټاکنو د بهير له پای ته رسېدو ورسته له هر حاضر کس سره مرکه وکړي که چېرې نوموړی کس يې ومني.

د خبري رسنيو استازي اجازه نلري چې:

- ✓ له هر حاضر کس (د ټاکنو ولايتي مسؤول، سرپرست، د ټاکنو ولايتي کمېسيون غړي، د ولايتي شورا غړي، کتونکي، يا ځانګړي ميلمه) سره د ټاکنو د بهير له مخه جريان څخه نيولې د ټاکنو تر پايه پورې مرکه وکړي.
- ✓ د چا د خوښې پرته د هغه/هغې فلم، عکس واخلي يا ورسره مرکه وکړي.
- ✓ د رای پاڼې له ښنه کېدو څخه فلم يا عکس واخلي، يا داسي عکس، لنډ فلم يا سمعی وينا ترلاسه کړي چې هغه شخصي مالومات ولري.
- ✓ د ټاکنو کومو توکو ته لاس ورووړي.

***د خبري رسنيو مرکې:***

د مرکو په ترڅ کې، د ټاکنو ولايتي مسؤول يا د ټاکنو ولايتي کمېسيون غړی کولی شي چې عمومي پوښتنو ته ځواب ورکړي، خو نشي کولی چې تبصرې او نظرونه ورکړي. ټولې مرکې بايد وروسته له هغې چې ټاکنې پای ته ورسېږي، ترسره شي. د ټاکنو ولايتي مسؤول يا د ټاکنو د ولايتي کمېسيون غړی کولی شي د لاندې ټکو په اړه پوښتنو ته ځواب ورکړي:

- ✓ د مشرانو جرګې د ټاکنو د عمومي جريا ن په هکله.
- ✓ د مشرانو جرګې د ټاکنو کړنلارې.
- ✓ د ټاکنو دندې او ترلاسه شوي مالومات او روزنه.
- ✓ د ټاکنو د کارکوونکو لپاره د ټا کنو د خپلواک کميسيون کړندود.

دوی نشي کولی چې د انګيزو په اړه څرګندونې وکړي يا نظرونه ورکړي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ د ولايتي شورا د غړو، سياسي ګوندونو يا ولسي جرګې، ولايتي شورا يا د مشرانو جرګې د ټاکنو په اړه تشريحات.
- ✓ د ټاکنو د پايلې يا نورو اړوندو موضوعګانو په اړه تعبيرات

### *د ننوتو اجازه :*

د ټاکنو ولايتي مسؤول د ولايتي شورا د غونډې کوټې ته د ننوتو د اجازې مسؤوليت په غاړه لري. کتونکي، د خبري رسنيو استازي او ځانګړيو ميلمنو ته لاربوونه کيږي چې د ټاکنو ولايتي مسؤول ته ورشي چې نوموړي د هغه/هغې د باورليک نښان او عکس لرونکي پېژندپاڼه وګوري. د ټاکنو ولايتي مسؤول به هغه چا ته د ننوتو اجازه ورنکړي چې د پېژندنې مناسب اسناد ونلري.

د هغو کتونکو، خبري رسنيو، او ځانګړو ميلمنو شمېر چې د غونډې کوټې د ننوتو اجازه ورکول کېږي، يوازې د ټاکنو د ولايتي مسؤول په واک کې ده. د يو نهاد له دوو کتونکو يا د خبري رسنيو له دوو استازو څخه زياتو کسانو ته اجازه نشته چې د غونډې په کوټه کې په عينې وخت کې حاضر وي.

### *د امنيت باوري کول:*

د ټاکنو د بهير لپاره پاخه امنيتي تدابير نيول کيږي. دا د امنيتي مسؤولينو دنده ده چې د ولايتي شورا د غړو، د ټا کنو د خپلواک کميسيون د دارالانشاء د کارکوونکو او د ټاکنو د توکو په ګډون، د ټاکنو د بهير لپاره امنيت ونيسي.

د ټاکنو ولايتي مسؤول تر لاربښوونې لاندې، سرپرست د ټاکنو د بهير په ترځ کې د نظم ساتلو مسؤوليت لري. امنيتي مسؤولين به دغونډې له کوټې څخه بهر وي په دې شرط چې دوی ته د ننه اړتيا پيدا نشي څو بيرنی حالت اداره کړي. دوی به د غونډې کوټې ته ننوزي که چېرې د ټاکنو ولايتي مسؤول يا د شورا د سرپرست لخوا د نظم ټينګولو لپاره را وغوښتل شي. دوی به د غونډې له کوټې څخه ژر تر ژره د نظم ټينګيدو سره سم وځي.

امنيتي مسؤولين به د غونډې له کوټې څخه د باندې نظم ساتي او د غونډې د کوټې د ننه به پر فعاليتونو نظر ساتي. که چېرې غوښتنه ترې وشي، دوی به هر هغه کس د غونډې له کوټې څخه د باندې وباسي چې ګواښوونکی يا يرغليز چال چلند کوي يا د ټاکنو ولايتي مسؤول يا د شورا د سرپرست لارښووني نه رعايت کوي. امنيتي مسؤولين کېدای شي، کله چې حالات اجازه ورکوي ددې مسؤوليت هم په غاړه ولري چې د ننوتو په مهمو ځايونو کې د خلکو فزيکي پلټنه وکړي څو خوندي چاپيريال باوري کړي.

<u>يادونه: امنيتي مسؤولين نشي کولی، که په هره بڼه وي، د ټاکنو په بهير کې لاسوهنه وکړي يا د اغيزې درلودو کوښښ وکړي.</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۵. د ټاکنو توکي :

د ټاکنو ولايتي مسؤول د ولايتي شورا د لومړۍ غونډې له پيل څخه وړاندې د مشرانو جرګې د ټاکنو د لوازمو بکس، چې د مشرانو جرګې د ټاکنو لپاره ټول اړين توکي لري، ترلاسه کوي. دی بايد د لوازمو د بکس محتويات د لوازمو د بکس له لست (لومړي مل) سره وګوري تر څو ډاډه شي چې ټول توکي په کې شته. د هر هغه توکي راپور بايد د انتخاباتو د خپلواک کميسيون د لوژستيک ولايتي ناظم ته ورکړل شي چې په بکس کې نه وي.
کله چې د لوازمو بکس تر استعمال لاندې نوي، بايد داسې خوندي ځای کې وساتل شي چې کلوپيږي.

### د مشرانو جرګې رای پاڼه:

د مشرانو جرګې رای پاڼه د ولايتي شورا رای پاڼې ته ورته ترتيب او معلومات لري (د کانديد نوم، عکس او انتخاباتي نښه).

### د توکو سمبالول:

أ. د ټاکنو لپاره اساسي توکي

١. د ولايتي شورا د غړو لست
٢. د مشرانو جرګې د ثبت کتاب؛
٣. د مشرانو جرګې د نوموني (م-٠١) فورمه (دريم مل وګورئ)
٤. رای پاڼه؛
٥. د شکايت (ټ خ ک - ٠١ ) فورمه (کله چې کارول کيږي)؛
٦. هغه ليپټاپ کمپيوټر چې د رای پاڼې جوړولو سافټ وير لري؛
٧. پرينټر ( د چاپ ماشين)؛
٨. د مشرانو جرګې د رايه ورکوونکو د لست (م-٠٢) فورمه
٩. د ټاکنو د پايلي (م-٠٣) فورمه
١٠. د رايي د نښه کولو د غرفي پردې؛
١١. د رای پاڼو صندوق.

ټول هغه توکي يا مواد چې د ولايتي شورا د غړو په هکله شخصي معلومات ولري يا د درغلی په موخه کارول کيدای شي حساس توکي دي. حساس توکي بايد تل په کلپ شوې کوټه يا د ټا کنود خپلواک کميسيون د دارالانشاء د کاروونکي تر څارني لاندې وساتل شي. شخصي معلومات بايد د ټا کنو د خپلواک کميسيون او د هغه د دارالانشاء له کارکوونکو پرته، هيچا ته ورنکړل شي او يا د هيچا له خوا کاپي نه شي.

د ټاکنو ولايتي مسؤول به همدارنګه د مشرانو جرګې د ټاکنو د بهير لپاره د قرطاسيي ټول اړين توکي ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مشرانو جرګې د ټاکنو فورمې او اسناد

| اسناد | کله کارول کېږي | تشریح |
|---|---|---|
| د ولایتي شورا د غړو لست | د ولایتي شورا په لومړۍ غونډه کې | د ولایتي شورا د غړو لست، چې د غړو د پېژندنې او حاضرۍ لپاره د هر غړي نوم، عکس او عمر لري. |
| د مشرانو جرګې د نومونې (م-۰۱) فورمه | د وخت په وخت، د ولایتي شورا له لومړۍ غونډې څخه د مشرانو جرګې د ټاکنو تر جریان پورې | د مشرانو جرګې د ټاکنو لپاره د کاندیدانو د نومونې غوښتنلیک |
| د مشرانو جرګې د رایه ورکوونکو لست (م-۰۲) | د مشرانو جرګې د ټاکنو د ورځې په جریان کې | د ولایتي شورا د غړو د شتوالي او د رای پاڼې د ورکړې د نښې کولو لپاره کارول کېږي، چې لاندې معلومات لري: د ولایتي شورا د غړي نوم، عکس، د حاضرۍ لپاره دوه خانې (کورګې) او د لا سلیکونو لپاره دوه ځایونه. |
| د ټاکنو د پایلې (م-۰۳) فورمه | د مشرانو جرګې د ټاکنو د ورځې په جریان کې | د ټاکنو د پایلو د ثبت لپاره کارول کېږي؛ د ټا کنو د خپلواک کمیسیون د دارلانشاء مرکزي دفتر ته د نوموړي کمیسیون د تصدیق لپاره سپارل کېږي. |
| رای پاڼه | د مشرانو جرګې د ټاکنو د ورځې په جریان کې | د رای پاڼې له وراندې چاپ شوی قالب چې د ترلاسه شوو نوموونو سره سم د رای پاڼو د چاپ لپاره کارول کېږي. |
| د شـکایتونو ټ خ ک ۰۱ فورمه | د ټاکنو په ټول بهیر کې | د ټا کنو و خپلواک کمیسیون ته د لیکلیو شکایتونو د سپارلو لپاره کارول کېږي |

## د مشرانو جرګې د ثبت کتاب

د ټاکنو ولایتي مسؤول د ټاکنو جریان او نور اړوند جزئیات د مشرانو جرګې د ثبت په کتاب کې ثبتوي. د ولایت نوم باید په لومړي مخ ولیکل شي. په دغه کتاب کې لاندې ټکي ثبتېږي:

- د ولایتي شورا د لومړۍ غونډې یادداشتونه:
  - د ولایتي شورا د تاسیس جزئیات؛
  - د دې خبرې تصدیق چې د ولایتي شورا غړو ته د مشرانو جرګې د ټاکنو په هکله خبر او معلومات ورکړل شوي دي؛
  - د مشرانو جرګې د ټاکنو اړوند نور جزئیات.

- د مشرانو جرګې د کاندیدانو د نومونې او لاس اخیستنې لست

- د مشرانو جرګې د ټاکنو د بهیر لنډ ټکي:
  - د ټاکنو د بهیر د پیل او پای نېټه او وختونه؛
  - د کتونکو، د خبري رسنیو د استازو او ځانګړو میلمنو حضور؛
  - د کاندیدانو نومونې
    - د مشرانو جرګې په رای پاڼه کې د موجودو کاندیدانو ثبت
    - د کاندید له خوا د مشرانو جرګې د نومونې (م-۰۱) فورمې د سپارلو نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د کاندیدانو لاس اخیستنه.
  - که کوم کاندید له کاندیدی څخه لاس اخلي، په بیله پاڼه کې یې ولیکئ او له کاندید څخه لاسلیک یا د ګوتي نښه واخلئ.

د ټاکنو د لومړي پړاو (دور) پایلې
- که شوې وي وي، د ټاکنو د دویم پړاو پایلې او د پچې نتیجه.
- نورې پېښې:
- د مشرانو جرګې د ټاکنو هره اړونده پېښه چې د مشرانو جرګې د ټاکنو د جریان له ورځې څخه وړاندې را منځ ته شوې وي، د بېلګې په توګه د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء له دفتر څخه د کاندیدانو لېدنه؛
- د یاداشت وړ هر هغه جزئیات چې د د ټاکنو پر جریان اغېزه لري.

د توکو لېږدونه

د مشرانو جرګې د ټاکنو ټول توکي او اسناد د ټاکنو د بهیر تر پایه پورې د خپلوا ک کمیسیون په ولایتي دفتر کې ساتل کېږي. له ټاکنو څخه وروسته ټول توکي د مشرانو جرګې دټاکنو د لوازمو په بکس کې د خپلوا ک کمیسیون د دارالانشاء د کابل دفتر ته د لېږدولو لپاره، اچول کېږي. توکي یا مواد د موادو د لېږدونې د لاربښوونو سره سم تړل او لېږدول کېږي.

## ۶. له ټاکنو څخه مخکې:

*د ولایتي شورا لومړۍ غونډه:*

ولایتي شورا له لومړۍ غونډې سره تاسیسېږي، په دې شرط چې د غړو اړین شمېر یا د مجلس نصاب ( د غړو له نیمایي څخه زیات؛ څلورم مل وګورئ)، پوره وي. که د مجلس نصاب پوره نه وي، نو غونډه باید وځنډېږي او تر ټولو نږدې ممکنه نېټه او وخت کې باید راوغوښتل شي.

د ولایتي شورا په لومړۍ غونډه کې باید د ولایتي شورا د قانون د کړنلارو سره سم د ولایتي شورا مامورین یعني د شورا رئیس، د رئیس مرستیال او منشي وټاکل شي.

☜ **<u>په یاد ولرئ</u>**

د ټاکنو ولایتي مسؤول یوازې د مشرانو جرګې د ټاکنو د جریان مسؤولیت لري، او د ولایتي شورا په نورو کارونو کې مداخله نشي کولی ( د مثال په ډول د ولایتي شورا د چارواکو انتخاب کې).
**د حکومت اړونده ولایتي اداره** د ولایتي شورا د غونډې د ځای برابرولو او همدارنګه د مشرانو جرګې په ګډون د ولایتي شورا د غونډو د لوژیستیکي ترتیباتو مسؤولیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولایتي مسؤول د ولایتي شورا په لومړۍ غونډه کې برخه اخلي تر څو:

- ⇦ د مشرانو جرگې د ټاکنو کړنلارې تشریح او اړوند معلومات او توکي تهیه کړي؛
- ⇦ له ضرورت سره سم پر مینه والو غړو د مشرانو جرگې د نوموني (M-۰۱) فورمې وویشي؛
- ⇦ د ولایتي شورا د غړو لست تهیه کړي.

د ولایتي شورا د غړوپه لست کې د ټا کنو د خپلواک کمیسیون د کاندیدانو د نوموني د معلوماتو سره سم نومونه او عمرونه لیکل شوې وي. ټول غړي چې ۳۵ یا له ۳۵ کلو څخه زیات عمر ولري د مشرانو جرگې ټاکنو ته خپل ځانونه کاندیدولی شي.

د ټاکنو ولایتي مسؤول به د ولایتي شورا غړي خبروي چې که د کوم کاندید عمر غلط لیکل شوی وي او کاندید له نوموني څخه غورځوي، نو کولی شي چې د ټا کنو خپلواک کمېسیون ته د ولایتي شورا له لومړۍ غونډې څخه وروسته په دوو ورځو کې دننه شکایت وسپاري.

### د نوموني دوره:

د ولایتي شورا یو غړی چې غواړي د مشرانو جرگې په ټاکنو کې د یوه کاندید په توگه ودرېږي، په کار دي چې لاندې عمر او د غوښتنلیک شرایط ولري:

- □ د کاندیدی د اعلانولو پر ورځ لږ تر لږه ۳۵ کلن وي (مثلاً: د ټاکنو ولایتي مسؤول ته د مشرانو جرگې د نوموني د م-۰۱ فورمې د وړاندې کولو پر ورځ).
- □ د ولایتي شورا له لومړۍ غونډې څخه د ټاکنو تر ورځې پورې، هر وخت چې وي، پخوا تر هغه چې رای پاڼه نهایي شي، د ټاکنو ولایتي مسؤول ته د مشرانو د جرگې د نوموني د م-۰۱ فورمې وړاندې کول په کار دي.

د ټاکنو ولایتي مسؤول لاندې مسؤولیتونه لري:

- ⇦ د ولایتي شوراگانو د غړیو په لست کې د ښودل شوي عمر له کتلو سره پر دې خبره ډاډه کېدل چې د کاندیدی غوښتونکو د عمر شرایط پوره کړي دي؛
- ⇦ که اړتیا وي، د مشرانو د جرگې د نوموني د م-۰۱ فورمې په ډکولو کې همکاري کول.
- ⇦ د مشرانو جرگې د ټاکنو د کړنلارو په اړه پوښتنې ځوابول؛
- ⇦ د مشرانو د جرگې د نوموني د ټولو م-۰۱ فورمو تعقیبول او د مشرانو جرگې د ثبت په کتاب کې د کاندیدانود نومونو ثبتول؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشرانو د جرګې د نوموني د م-۰۱ فورمې بشپړول:

۱. د ولايتي شورا د ولايت نوم وليکئ.
۲. د کانديد نوم ، څنګه چې د ولايتي شورا د غړيو په لست کې وي، وليکئ.
۳. د کانديد عمر وليکئ.
يادونه: کانديد بايد، پر هغه ورځ چې د مشرانو د جرګې د نومونې م-۰۱ فورمه وړاندې کوي، لږ تر لږه ۳۵ کلن وي.
٤. د کانديد جنس وليکئ.
٥. په ټاکلو تشو ځايونو کې د ادرس د تفصيلاتو په ګډون د کانديد اوسنی ادرس وليکئ.
٦. د کانديد د ټيليفون او تماس شمېره وليکئ.
۷. دا خبره ډاډمنه کړئ چې کانديد پر ژمنليک تر پوهېدلو وروسته هغه لاسليک کړي يا ورباندې ګوته ولګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷. د ټاکنو د جریان ترتیب:

د مشرانو جرګې د ټاکنو پر ورځ د ټاکنو ولایتي مسؤول د ولایتي شورا د غونډې خونې ته د ټاکنو د جریان له پیل څخه یو ساعت مخکې وررسیږي.

### ۱. د غونډې خونه ترتیبوي:

د ټاکنو ولایتي مسؤول باید د غونډې خونه په داسې یوه طریقه چې لاندې خبرې ورسره ډاډمنیږي، ترتیب کړي:

- o د منظم جریان د اسانولو له پاره میز، څوکۍ او مواد تنظیمیږي؛
- o د محرمیت د تضمینولو له پاره د رایې نښه کولو غرفې ځای په ځای کیږي؛
- o د رایي نښه کولو په غرفو کې قلمونه اېښودل کیږي؛
- o د رای پاڼو صندوق تر غرفې لرې ایښودل کیږي، چې په ښکاره توګه د لیدو وړ وي؛
- o د ټاکنو میز(چیرته چې سرپرست مامور او د ټاکنو ولایتي مسؤول کښیني) په روښانه توګه د لیدو وړ وي؛
- o د ټاکنو د ولایتي کمیسیون او کتونکو، د خبري رسنیو د استازو او ځانګړیو مېلمنو له پاره یوه جلا ساحه ځانګړې کیږي.

### ۲. مواد ګوري او ترتیبوي:

د ټاکنو ولایتي مسؤول ټول مواد د مشرانو جرګې د ټاکنو د لوازمو له لست سره ګوري او که کوم شی ورک وي، د ټا کنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء له ولایتي لوژستیکي مامور سره تماس نیسي. د ټاکنو ولایتي مسؤول ټول هغه ضروري مواد چې د ټاکنو د جریان د پیل له پاره ضروري وي، چمتوکوي.

ټول هغه مواد به چې نه کارول کیږي، د ضرورت تر وخته د مشرانو جرګې د ټاکنوپه صندوق کې پاته کیږي. لیپټاپونه او پرنټرونه چې نه کارول کیږي، باید تر څارنې لاندې په خوندي توګه زیرمه یا وساتل شي.

### ۳. د غونډې خونې ته د ننوتلو اجازه ورکوي:

د ټاکنو ولایتي مسؤول:

- ⇦ د ولایتي شورا او د ټاکنو ولایتي کمیسیون غړو ته د ننوتلو اجازه ورکوي او پر څوکیوباندې د هغوی د کښېناستلو هر کلی کوي.
- ⇦ کتونکو، د خبري رسنیو استازو، او ځانګړیو مېلمنو ته لارښوونه کوي چې د غونډې خونې ته د ورننوتلو په ځای کې یو منظم کتار جوړ کړي. د هر لیدونکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د باورلیک د پېژندنې نښه او عکس لرونکې پېژند پاڼه ګوري؛
- نوم او د هغه د نښې شمېره د مشرانو جرګې د ثبت په کتاب کې ثبتوي؛
- د ګڼې ګوڼې د مخنيوي له پاره په يوه وخت کې يوه کس ته د ننوتلو اجازه ورکوي.

☜ د نظم ساتل: ټولو حاضرو کسانو ته يادونه
- د غونډې په جريان کې بايد ګرځنده ټيليفونونه بند (ګل) وي.
- د غونډې په خونه کې د وسلې اجازه نه ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸. د ټاکنو د جریان اووه پړاوونه

لومړی پړاو.- د ټاکنو تر جریان له مخه غونډېدل

د ټاکنو ولایتي مسؤول:

- د لاندېنیو ۱- ۸ ټکیو له مخې، ولایتي شورا ته تشریح کوي، چې د ټاکنو تر جریان له مخه به څه کېږي.
- د ۱- ۸ ټکیو مسؤولیت په غاړه اخلي.

۱. د ولایتي شورا د غړیو غیر رسمي حاضري اخلي؛

**که د مجلس نصاب نه وي پوره نو څه کېږي؟**
تر ټاکنو د مخه جریان له پاره د نصاب اړتیا نشته. <u>خو د مشرانو جرګې د ټاکنو د غونډې له پاره دوه ثلثه نصاب ضروری دی</u> (لومړی ضمیمه). که تر ټاکنو له مخه جریان کې کافي غړي حاضر نه وي، نو دا دې خبرې ته اشاره کوي چې کېدی شي د مشرانو جرګې د ټاکنیز جریان نصاب پوره نه شي. د ټاکنو ولایتي مسؤول باید لاندېنی لارې چارې وړاندې کړي او له ولایتي شورا سره په تړاو کې عمل باندې موافقه وکړي. د نه موافقې په صورت کې د ټاکنو د ولایتي مسؤول پرېکړه وروستی ده.

- ✓ د نصاب تر پوره کېدلو پورې دې تر ټاکنو د مخه جریان ته دوام ورکړي.
- ✓ د ولایتي شورا له ناسوبو غړیو سره دې تماس ونیسي او ورڅخه دې وغواړي چې په غونډه کې برخه واخلي.
- ✓ جریان دې بل وخت ته وځنډوي او له سره دې تر ټولو چټکه شونې نېټه او وخت وټاکي.

۲. د مشرانو جرګې د هغو کاندیدانو لست په جګ آواز لولي چې ځانونه یې تر دی نېټي پورې نومولي دي؛

۳. د ولایتي شورا د یوه غړي\غړې له پاره د نومونې وروستی امکان اعلانوي. هغو کسانو ته لارښوونه کوي چې د مشرانو جرګې د نومونې د فورمې (م-۰۱ ) له وړاندې کولو سره لېوالتیا لري؛

٤. له هر کاندید\کاندیدې څخه چې غواړي له خپلې کاندیدۍ څخه تېر شي، پوښتنه کوي. تېرېدنه د مشرانو جرګې د ثبت په کتاب کې د تیر شوي کاندید له لاسلیک سره تصدیقوي؛

٥. د نومول شوو کاندیدانو لست (هغه کاندیدان چې په رای پاڼه کې به ښکاره کېږي) او د هغو شاته شوو کاندیدانو لست چې د مشرانو جرګې د ثبت په کتاب کې ثبت شوي، په جګ آواز لولي؛

٦. دا خبره تصدیقوي چې د ولایتي شورا یو غړی د ټاکنو په جریان کې د غونډې سرپرستي کوي؛

۷. د ولایتي شورا هره یوه پوښتنه ځوابوي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸. د رای پاڼي د تیاري په موخه جریان تر یوه بل ټاکلي وخت پورې ځنډوي. نوموني او تېرېدني تر دې وروسته نه منل کېږي.

### *دویم پړاو. د ټاکنو تیاری*

د رای پاڼو جوړول:

- د ټاکنو ولایتي مسؤول د لارښونو له مخې رای پاڼې جوړوي.

کړنلارو ته عمومي کتنه:

- د ټاکنو ولایتي مسؤول، سرپرست ته لارښونه کوي چې څنګه د ټاکنو جریان پلی کړی او د کړنلارو اړوند پوښتنو ته ځوابونه وایي.

***دریم پړاو.*** د ټاکنو د جریان پیلول

**د مشرانو جرګې د ټاکنو د پایلو م - ۰۳ فورمې پیلول**
د ټاکنو ولایتي مسؤول <u>لومړی برخه (د مشرانو جرګې د ټاکنو</u> **<u>جزئيات</u>) ډکوي:**

۱. دهغه ولایت نوم لیکي چېرې چې جریان پلی کیږي.
۲. د ولایتي شورا د ټولو غړو نومونه داخلوي ( ٤ مل وګورئ )
۳. د ولایتي شوراد هغوغړوشمیر داخلوي، چې د ټاکنو په جریان کې موجود وي.
٤. د هو او نه ځواب لیکي، چې آیا دغړو ټاکلی شمېر یا د مجلس نصاب پوره وو او که نه (٤ مل وګورئ )
٥. دهغو رایو شمیر داخلوي، چې یوکاندید ورته د ټاکنو په لومړي پړاو کې د بشپړې مودې د استازي په توګه د انتخابېدو لپاره اړتیا لري.

د ټاکنو د ولایتي مسؤول له لارښووني سره سم، سرپرست:

⇐ *حاضري اخلي او هغه څوک چې حاضر وي* د مشرانو جرګې د رایه ورکونکو په لست م- ۰۲ -کې یې نوم په نښه کوي.
⇐ اعلان کوي چې د ۳\۲ غړو شمېر پوره شوی او که نه (٤ مل):
- که چیرې د غړو شمېر پوره شوی وي، د رایو هغه شمیر اعلانوي چې یو کاندید د رایي ورکولو په لومړي پړاو کی د انتخابیدو لپاره ورته اړتیا لري.
- که چیرې د غړو شمېر پوره نشو، جریان ځنډوي.

⇐ درایي ورکولو بهیر روښانه کوي.

⇐ روښانه کوي چې د رایي ورکولو څخه وروسته څه کیږي

⇐ هغه دوه لارې روښانه کوي چې له مخې یې یو کاندید مشرانو جرګې ته انتخابیدای شي.*(پنځم مخ وګورئ)*

(c) ketabton.com: The Digital Library

## *څلورم پړاو. رایه ورکول.*

**د رايي د محرميت ساتنه**

- ددې لپاره چې د رايې محرميت وسا تل شي، د ولايتي شورا ټول غړي بايد يو ه رای پاڼه واخلي.
- هر غړئ بايد خپله رای پاڼه په پټ ځای کې په نښه کړي، غبرګه يې کړي او د رای پاڼو په صندوق کې يې واچوي
- د مرستې د حا لت په استثنا يوازې يو کس کولی شي چې په يوه وخت کې د رايې ورکولو د پردې ترشا وي.
- يو غړی بايد پخپله رايه ورکړي. هيڅوک د هغه او يا هغې په ځای رايه نه شي ورکولای.

د ټاکنو ولايتي مسؤول **په** لاربښونه، سرپرست:

- ⇐ د رای پاڼو صندوق په دواړو اړخو کې مهر او لاک کوي او په لوړ اواز سره يې لولي، او د ټاکنو ولايتي مسؤول يې د ثبت په کتاب کې درجوي؛
- ⇐ د ولايتي شورا غړو ته لاربښونه کوي چې د ټاکنو د ميز مخامخ يوه منظمه ليکه جوړه کړي؛
- ⇐ د ولايتي شورا غړو ته ښيي چې څنګه رای پاڼه په نښه او غبرګه کړي؛
- ⇐ د ولايتي شورا هر غړي ته:

1. *ښيي چې چيرته د مشرانو جرګې د رايه ورکونکوپه م-۰۲- لست کې لاسليک وکړي؛*
2. يوه رای پاڼه ورکوي . که چيرته رايه ورکونکي سهوه وکړي، هغه کولی شي چې رای پاڼه سرپرست ته د بلې رای پاڼې په بدل کې بيرته ورکړي؛
3. د رايي نښه کولو د پردې شاته يې لېږي، چې رای پاڼه په پټ ډول په نښه کړي او بيا رای پاڼه د رای پاڼو په صندوق کې واچوي.

*يادونه*. :د ټاکنو ولايتي مسؤول به د ولايتي شورا د معلولو غړو سره د ضرورت سره سم د مرستې کولو لپاره موجود وي.

- ⇐ خپله رای پاڼه نښه کوي او په صندوق کې يې اچوي
- ⇐ وروسته له دې چې د ولايتي شورا ټولو غړو رايې ورکړي، د رايې ورکولو پای اعلانوي .

**ضايع شوي راې پاڼې**

د ټاکنو ولايتي مسؤول به د ضايع شوو راې پاڼو لپاره يو پاکټ چمتو کوي. که د چا خخه په راې پاڼه کې اشتباه وشي، يا د راې پاڼه خرابه شي نو سرپرست مامور به نومورې راې پاڼه ضايع کوي او پرځاې يې نوې پاڼه په لاندې ډول ورکوي.
* په لويو تورو د ضايع شوو راې پاڼو شاته "ضايع شوي" به وليکي.
* ضايع شوي راې پاڼه د ضايع شوو راې پاڼو په پاکټ کې به کښېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## *د استازو غوره کول: د رايې ورکولو پروسه*

### ۱. *په لومړي پړاوکې د ا ستازو غوره کول:*

- يو کانديد بايد د ولايتي شورا د حاضرو غړو له نيمايي څخه زياتې رايې ترلاسه کړي. دغه کانديد به د بشپړې مودې د استازي په توګه غوره کېږي؛
- هغه کانديد چې دويمې زياتې رايې وګټي د منځمهاله استازي په توګه غوره کېږي.
  - ← که دوه يا زيات کانديدان دويمې زياتې رايې وګټي، د منځمهاله استازي د غوره کولو لپاره د دوی تر منځ بچه اچول کېږي.

### ۲. *په دوهم پړاو کې د کانديدانو غوره کول:*

- که يوه کانديد هم د ولايتي شورا د حاضرو غړو د رايو غوڅ اکثريت تر لاسه نه کړ، د ټاکنې دوهم دور به دهغو دوو کانديدانو تر منځ تر سره شي چې تر ټولو څخه ډيرې رايې يې ګټلي دي.

  - ← که له دوو څخه ډيروکانديدانو په لومړی دورکې له ټولو څخه ډيرې يو برابر رايې ګټلي وي، د هغو کانديد د معلومولو لپاره چې بايد په دويمه دوره کی برخه واخلي، بچه اچول کېږي.
  - ← که يو کانديد له ټولو څخه زياتې رايې او دوو يا له دوو څخه ډيروکانديدانو په لومړی دورکې له ټولو څخه دويمې زياتې يو برابر رايې ګټلي وي، د هغه **دو**هم کانديد د معلومولو لپاره چې بايد دټاکنې په دوهمه دوره کی برخه واخلي، بچه اچول کېږي.

- نوې رای پاڼې چې دواړه کانديدان په دوهمه دوره کې ښيي جوړيږي
- هغه کانديد چې زياتې رايې وګټي، د بشپړې مودې د استازي په توګه غوره کېږي.
- هغه کانديد چې دويمې زياتې رايې وګټي د منځمهاله استازي په توګه ټاکل کېږي.
- که د دويم پړاو په ټاکنو کې دواړه کانديدان يو برابر رايې وګټي ، نو د بشپړې مودې د استازي (اصلي استازي) د ټاکلو لپاره بچه اچول کېږي. (يادونه: هغه کانديد چې نوم يې په بچه کې نه راوځي، د منځمهاله استازي په توګه انتخابيږي.)

## ***څنګه بچه واچول شي؟***

*سرپرست:*

۱. له بې کاره رای پاڼې څخه د هر کانديد د رای پاڼې معلومات پرې کوي ؛
۲. د کاغذ هره ټوټه حاضرو کسانو ته ښکاره کوي او د کانديد نوم اعلانوي؛
۳. د کاغذ هره ټوټه په يوه لفافه کې اچوي او بندوي يـې.

د ټاکنو ولايتي مسؤول

٤. هره لفافه د رای پاڼو په صندوق کې اچوي؛
٥. درای پاڼو صندوق ښه ښوروي؛
٦. هغه پوست اعلانوي چې په لومړی بچه کې معلومېږي؛
۷. يوه لفافه د رای پاڼو له صندوق څخه را اخلي او پرانيزي يې؛
۸. د غوره شوي کس نوم په لوړ غږ لولي؛
۹. هغه پوست اعلانوي چې په دويمه بچه کې معلومېږي؛
۱۰. دويمه لفافه د رای پاڼو له صندوق څخه را اخلي او پرانيزي يې؛
۱۱. د غوره شوي کس نوم په لوړ غږ لولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم پړاو. د رای پاڼې ښودل:

د ټاکنو ولایتي مسؤول له لاربښونې سره سم، سر پرست:

⇐ د رای پاڼو صندوق د ټاکنو میز ته راوړي او د حاضرو کسانو په مخ کې یې پرانیزي؛

⇐ په لاندې توګه یوه یوه رای پاڼه راباسي تر څو چې د رای پاڼو صندوق تش شي:

١. یوه رای پاڼه را وباسي؛
٢. رای پاڼه سپړي او ښکاره کوي یې؛
٣. د غوره شوي کاندید نوم په لوړ غږ لولي؛
٤. رای پاڼه د حاضرو کسانو په مخکې د ټاکنو د میز په سر ږدي او د کاندید دنوم مطابق یې په منظمو ډیریو کې ایږدي.

## شپږم پړاو: شمېرنه

⇐ تر څو چې ټولې ډیرۍ پروسیس شي ، په یوه وخت کې دیوې دلې په برخه کې سرپرست:
١. یوه دلې د ټولو حاضرینو په مخ کې نیسي او انتخاب شوی کاندید اعلانوي.
٢. د ترلاسه شویو رای پاڼو شمېر په لوړ غږ اعلانوي.
٣. د ترلاسه شویو رای پاڼو شمېر د کاغذ په یوه ټوټه باندې لیکي.
٤. د کاغذ ټوټه د رای پاڼو د ډیرۍ په سر ږدي.

وروسته له دې چې ټولې ډیرۍ په سمه توګه له پړاوونو څخه تیرې شوې، د ټاکنو ولایتي مسؤول:

⇐ رای پاڼې دوه ځلې ګوري څو باوري کړي چې رای پاڼې په ښه ډول شمیرل شوی او د اړتیا په صورت کې یې اصلاح کوي.
⇐ ټولو حاضرینو ته بلنه ورکوي چې رای پاڼې په خپلو سترګو وګوري. ( یادونه: یوازې د ټاکنو ولایتي مسؤول او سرپرست کولی شي چې رای پاڼو ته لاس وروړي).

⇐ هغو پوښتنو او اندېښنو ته، چې د ولایتي شورا ګانو د غړو له خوا شوي وي، ځواب وایي.

⇐ دهغه کاندید نوم اعلانوي چې د ټولو نه یې ډیرې رایی ګټلې وي.

⇐ اعلانوي چې کاندید د ولایتي شورا د حاضرو له نیمایي رایو څخه زیاتو باندې انتخاب شوی دی.

o که یو کاندید او یا کاندیده د ولایتي شورا د حاضروغړو د غوڅ اکثریت په رایه انتخاب شوی وي، د دویم پړاو ټاکنې به نه کیږي. سرپرست پایلې اعلانوي او تصدیقوي چې دا او یا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاندید یا کاندیده د ولایتي شورا له خوا د مشرانو جرګې لپاره د بشړې مودې لپاره غوره شوی دی او پلانی د منځمهاله استازي په توګه انتخاب شوی دی.

- o که یو کاندید هم د حاضرو غړو غوڅ اکثریت ترلاسه کړی نه وي، د دویم پړاو ټاکنې باید ترسره شي (۲۰ مخ وګورئ). د دویم پړاو د ټاکنو له بشپړیدو وروسته، سرپرست پایلې اعلانوي او د ولایتي شورا له خوا د مشرانو د جرګې لپاره غوره شوی کاندید تاییدوي.

جریان پای ته رسیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ***اووم پړاو. د مشرانو جرګې له ټاکنو څخه وروسته***

د ټاکنو ولایتي مسؤول د مشرانو جرګې د ټاکنو د پایلو م-۰۳ فورمه ډکوي او د ټاکنو توکي د لېږدولو لپاره تړي. د مشرانو جرګې د ټاکنې د پایلوم-۰۳ فورمه د ټا کنو خپلواک کمیسیون ته د کتنې او تصدیق لپاره استول کیږي. د مشرانوجرګې د ټاکنو د ترسره کېدو په باره کې د شکایتونوورانډي کولو لپاره دوه ورځې وخت ورکول کیږي.

د مشرانو جرګې د ټاکنو بریلیک او د مشرانو جرګې په هکله معلومات غوره شوي کاندید ته، وروسته له دې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرټولو شکایتونو غور وکړ، لیږل کیږي.

**۹. د مشرانو جرګې د ټاکنو د پایلو م -۰۳ فورمې ډکول**

د ټاکنو ولایتي مسؤول د فورمې دوه نقله ډکوي او یوه یې د ډ ټاکنو له جریان څخه وروسته په همغه ځای کې راځړوي:

**لومړی برخه:**

دا برخه له ټاکنو څخه وړاندې ډکېږي.

۱. معلومه کړئ چې د مجلس نصاب (۳\۲ غړي) پوره دي که نه

۲. د رایو هغه شمېر معلوم کړئ چې یو کاندید یې د غوڅ اکثریت د ګټلو لپاره ورته اړتیا لري؛ لږ تر لږه د حاضرو غړو له نیمایي څخه یو زیات.

<u>دویمه برخه: د ټاکنو د لومړی پړاو پایلې</u>

۱. دکاندیدانو نومونه دډیرو رایو په ترتیب سره په لست کې ولیکئ ( د بېلګې په توګه، لومړی د هغه کاندید نوم ولیکئ چې له ټولو څخه یی ډیرې رایی ګټلې وي اوپه پای کې د هغه کاندید نوم ولیکئ چې له ټولو څخه یی لږې رایی ګټلې وي). که چیرته له یوه څخه ډیرو کاندیدانو په یوه اندازه رایې ګټلي وي، پایلې د الف- با په ترتیب د اړوند کاندید دنوم مطابق ولیکئ.

۲. "هو" په نښه کړئ که چېرې تر ټولو زیاتې رایې درلودونکی کاندید د حاضرو غړو له نیمایي څخه زیاتې رایې ترلاسه کړی وي، که نه نو "نه" په نښه کړئ.

<u>دریمه برخه: د دویم پړاو د ټاکنو پایلې</u>

۱. که چېرته پچه اچول شوي وي، د هغه کاندید نوم په لست کې ولیکئ کوم به چې د ټاکنو دویم پړاو ته پرمختګ کوي.

۲. د هغو کاندیدانو نومونه په لست کې ولیکئ چې د دویم پړاو په ټاکنو کې برخه اخلې او د ترلاسه شویو رایو شمېر په ګوته کړئ.

۳. د هغو دوو کاندیدانو نومونه په لست کې ولیکئ چې په پچې کې یې ګډون لرلو او غوره شوی کاندید په نښه کړئ.

<u>ځلورمه برخه: وروستۍ پایلې</u>

۱۱. غوره شوی کاندید اوداچې کاندید څنګه غوره شوی دی، وښیئ.

- د ټا کنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکی(د ټاکنو ولایتي مسؤول یا د هغه په ځای ټاکل شوی کس )، نوم ، لاسلیک او نېټه داخل کړئ
- د سرپرست نوم ، لاسلیک او نېټه داخل کړئ.
- د ټاکنو د ولایتي کمېسیون د استازي نوم، لاسلیک او نیټه داخل کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشرانو جرگې د ټاکنو لپاره د ولايتي شورا جدول لومړی مل:**

| ګڼه | ولايت | ولايتي شورا: ټولټ څوکۍ | د مجلس د ۲\۳ نصاب لپاره د لږ تر لږه غړو ضرروري شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۲۹ | ۲۰ |
| ۲ | کاپيسا | ۹ | ٦ |
| ۳ | پروان | ۱٥ | ۱۰ |
| ٤ | وردک | ۹ | ٦ |
| ٥ | لوګر | ۹ | ٦ |
| ٦ | غزني | ۱۹ | ۱۳ |
| ۷ | پکتيکا | ۹ | ٦ |
| ۸ | پکتيا | ۹ | ٦ |
| ۹ | خوست | ۹ | ٦ |
| ۱۰ | ننګرهار | ۱۸ | ۱۲ |
| ۱۱ | کنړ | ۹ | ٦ |
| ۱۲ | لغمان | ۹ | ٦ |
| ۱۳ | نورستان | ۹ | ٦ |
| ۱٤ | بدخشان | ۱٥ | ۱۰ |
| ۱٥ | تخار | ۱٥ | ۱۰ |
| ۱٦ | بغلان | ۱٥ | ۱۰ |
| ۱۷ | کندز | ۱٥ | ۱۰ |
| ۱۸ | سمنګان | ۹ | ٦ |
| ۱۹ | بلخ | ۱۹ | ۱۳ |
| ۲۰ | جوزجان | ۹ | ٦ |
| ۲۱ | سرپل | ۹ | ٦ |
| ۲۲ | فارياب | ۱٥ | ۱۰ |
| ۲۳ | بادغيس | ۹ | ٦ |
| ۲٤ | هرات | ۱۹ | ۱۳ |
| ۲٥ | فراه | ۹ | ٦ |
| ۲٦ | نيمروز | ۹ | ٦ |
| ۲۷ | هلمند | ۱٥ | ۱۰ |
| ۲۸ | کندهار | ۱٥ | ۱۰ |
| ۲۹ | زابل | ۸ | ٥ |
| ۳۰ | اروزګان | ٦ | ٤ |
| ۳۱ | غور | ۱٥ | ۱۰ |
| ۳۲ | باميان | ۹ | ٦ |
| ۳۳ | پنجشير | ۹ | ٦ |
| ۳٤ | دايکندي | ۹ | ٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دويم مل د مشرانو جرگې د ټاکنو د لوازمو لست : ټول توکي دلته ذکر شوي دي

| | توکي (اقلام) | د لوازمو په بکس کي مقدار | د توکي تشريح | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د مشرانو جرگې د ثبت کتاب | ۱ | | د ولايتي مسؤول د ټاکنو جريان او نور اړوند تفصيلات د مشرانو جرگې د کندي په کتاب کې ليکي. د ولايت نوم بايد د کتاب په پوښ باندې وليکل شي. |
| ۲ | د مشرانو جرگې د نوموني م-۰۱ فورمه | ۳۰ | | د ولايتي شوراگانو هغه غړي چې د مشرانو جرگې ټاکنو ته کانديدل غواړي، دا فورمه د ټاکنو ولايتي مسؤول ته سپاري. |
| ۳ | د ولايتي شورا د غړو د لست م-۰۲ فورمه | ۱۰ | د حاضرۍ پاڼي او د رايه ورکوونکو لست | د ولايتي شورا د غړو د شتوالي او د راى پاڼې د ورکړې د نښې کولو لپاره کارول کېږي، چې لاندې معلومات لري:<br>د ولايتي شورا د غړي نوم، عکس، د حاضرۍ لپاره دوه خاني (کورگي) او د لا سليکونو لپاره دوه ځايونه. |
| ٤ | ليپټاپ ( کمپيوټر) | ۱ | د کمپيوټر ټول هغه پروگرامونه په بر کي نيسي چې د راى پاڼو د ترتيبولو لپاره په کار وي | د ټاکنو ولايتي مسؤول دا پروگرامونه د لاربښونو سره سم کاروي |
| ٥ | پرينټر | ۱ | | د ټاکنو ولايتي مسؤول پرنټر د لارښونوسره سم د راى پاڼو د پرنټ يا چاپ لپاره کاروي |
| ٦ | د پرينټر کارټريج او ټونر (رنگ) | ۱ | | |
| ۷ | راى پاڼې | د هر ولايت شمېر فرق لري | د راى پاڼې قالب چې د راى پاڼو د جوړولو لپاره کارول کېږي | د ټاکنو ولايتي مسؤول د لارښونوسره سم راى پاڼې پرنټ يا چاپوي |
| ۸ | راى پاڼې (احتياطي) | د ولايت له مخې فرق لري | چې بين المللي کارکوونکي يې بايد په مهر شوو پاکټونو کې راوړي | احتياطي پلان: که د ټاکنو پر ورځ د راى پاڼو په جوړولو کې ستونزه وي نو له دغو وار دمخه چاپ شوو راى پاڼو څخه، چې ټول پر شرايطو برابر کانديدان لري، کار اخيستل کېږي. په احتياطي يا احتمالي راى پاڼې کې د شورا د هغو غړو په نومونو باندې به د غټې خولې پر مارکر باندې خط راکش کړى شي، چې په ټاکنو کې نه وي کانديد. |
| ۹ | د راى پاڼو صندوق | ۱ | | د هرې ولايتي شورا غړي د ر اى پاڼو په صندوق کې يوه رايه اچوي |
| ۱۰ | مهر او لاکونه | ٥ | پلاستيکي شمېره لرونکي مهر او لاکونه | راى پاڼو صندوق له ټاکنو څخه مخکې په دواړوو اړخونو کې مهر او لاک کېږي. |
| ۱۱ | د رايي د نښه کولو د ځاى غرفه | ۱ | | چېرته چې رايه ورکونکي رايه په نښه کوي، داسې ځاى کې کېښودل کېږي چې خلکو ته يې شا وي او د کړکۍ مخې ته نه وي. |
| ۱۲ | د ټاکنو د پايلو م-۰۳ فورمه | ٤ | | د ټاکنو ولايتي مسؤول دوه کاپۍ بشپړوي: يوه د غونډو په خونې کې دلگولو او بله کابل کې مرکزي دفتر ته د استولو لپاره |
| ۱۳ | قلمونه | ۱۰ | | د ټاکنو ولايتي مسؤول د رايې د نښه کولو په غرفه کې ۳ قلمونه ږدي او نور د مشرانو جرگې د ټاکنو د لوازمو په بکس کې ساتي |
| ۱٤ | تور\ابي مارکرونه | ۲ | پلنه- څوکه | د احتمالي استعمال لپاره |
| ۱٥ | سپينې پاڼې – A٤ | ٥۰ پاڼې | | د ټاکنو ولايتي مسؤول د هغو کانديدانو نومونه ليکي چې په پچه اچولو( قرعه کشۍ ) کې برخه اخلي |
| ۱٦ | د شکايت (ټ خ ک ۰۱) فورمه | ۱۰ | | د مشرانو جرگې د ټاکنو اړوندو شکايتونو لپاره |
| ۱۷ | پاکټونه | ۲٤ | | ۳ ډوله کارول کېږي:۱) د پچې لپاره ۲) د باطلو راى پاڼو لپاره – د ولايت نوم او "باطلې راى پاڼې" پرې ليکل کېږي ۳) د شکايت د ټ خ ک – ۰۱ فورمو لپاره - د هر شکايت لپاره بېل پاکټ وکارول شي او پر سر يې وليکل شي چې د شکايت د ټ خ ک – ۰۱ فورمه |
| ۱۸ | د حساب ماشين | ۱ | | د رئيس لپاره، څو د ټاکنو پايلې په م-۰۳ فورمه کې محاسبه کړي |
| ۱۹ | سکاچ ټيپ | ۱ | | په پچه اچولو او د م-۰۳ فورمې په لگولو کې کارول کېږي. |
| ۲۰ | د گوټې لگولو د رنگ ډبلی | ۱ | | د رايه ورکوونکو د لست په م-۰۲ فورمه کې د ولايتي شورا د غړو د لاسليک او گوتې لگولو په برخه کې کارول کېږي |
| ۲۱ | بياتي ( قيچي) | ۱ | | د سپينو پاڼو د اضافي برخو د غوڅولو لپاره، څو د قرعه کشۍ لپاره وکارول شي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مل: د مشرانو جرگی د نومونی م-۱ ۰ فورمه واچوي:

**د ۱۳۸۵ کال د مشرانو جرگي ټاکني**
**دمشرانو جرگي د نوموني م – ۰۱ فورمه**
**انتخابات مشرانو جرگه سال ۱۳۸۵**
**فورمه نامزدی مشرانو جرگه م – ۰۱**

**Meshrano Jirga Election 2006**
**M01-Meshrano Jirga Nomination Form**

لومړۍ برخه / بخش اول : دکاندید په هکله معلومات/ معلومات در مورد کاندید / Candidate Information - SECTION i

۱ ولايت / ولايت
Province

۲ د ولايتي شورا په رای پاڼه کې نوم / اسم در ورق رای شورای ولایتی
Name listed on the Provincial Council ballot

۳ عمر / عمر
Age

٤ جنس / جنس — نارينه / ذکور ☐ ښځينه / اناث ☐
Gender — Male — Female

دويمه برخه / بخش دوم : د تماس نيولو جزئيات / جزئيات تماس / Contact Details - SECTION II

۵ اوسنی پته / سکونت فعلی
Current address

| کلی/ ښار کوڅی / شهر قریه<br>Village/City | ولسوالي / ولسوالی<br>District | ولايت<br>Province |
|---|---|---|
| | | |

٦ دټيلفون يا تماس شميره / شماره تيلفون يا تماس
Telephone or contact number

دکور او کوڅې په کډون د پتې تفصيل / شرح مفصل آدرس بشمول خانه و سرک
Detailed description of address (including house and street)

دريمه برخه / بخش سوم : ژمنليك / تعهدنامه / Declaration - SECTION III

زه چي نرماله پوهي سره سم په دي فورمه کي مي تول ورکړل شوي معلومات بشپړ او سم دي
داسي دليل نه وينم چي د مشرانو جرگي ته دي کانديدېدي نشم
بدينوسيله تصديق مينمايم كليه معلوماتی كه از طرف من در فورمه هذا ارائه گرديده تا آنجا كه ميدانم كامل و صحت ميباشد
اينجانب دليلی را نمی بينم كه مانع كانديد شدن من در مشرانو جرگه گردد
I hereby confirm that all the information I have provided in this form is complete and correct to the best of my knowledge.
I know of no reason why I may not stand as a candidate for the *Meshrano Jirga* Election.

نېټه / تاريخ / Date ——/——/——
ورځ / مياشت/ کال
روز / ماه / سال
Day / Month / Year

دکانديد لاسليك / امضاء كانديد
Signature of the Candidate

څلورمه برخه / بخش چهارم / SECTION iv - To be completed by IECS Official
دټاکنو د خپلواک کمېسيون دارالانشا د مسؤول مامور له خوا بايد ډك شي / توسط كارمند دار الانشای كميسيون مستقل انتخابات خانه پری و تكميل گردد

دټاکنو د خپلواک کمېسيون ددارالانشا دکارکوونکي نوم
اسم كارمند دار الانشای كميسيون مستقل انتخابات
Name of IECS Official

نېټه / تاريخ / Date ——/——/——
ورځ / مياشت/ کال
روز / ماه / سال
Day / Month / Year

دټاکنو د خپلواک کمېسيون د دارالانشا دمسؤول مامور لاسليك
امضای كارمند دار الانشای كميسيون مستقل انتخابات
Signature of IECS Official

فورمه م – ۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلورم مل: د مشرانو جرګې د ټاکنو د ریوټ-م-۲۰ فورمه واچوئ

**د ۱۳۸۵ کال د مشرانو جرګې ټاکنې**
دولایتي شورا د غړولست م - ۰۲
**انتخابات مشرانو جرگه سال ۱۳۸۵**
م - ۲۰لست اعضای شورای ولایتی
Meshrano Jirga Election 2006
From M02

دولایت نوم / نام ولایت/ Province Name: ____________________________

| ګڼه شماره No. | د ولایتي شورادغړی نوم نام عضو شورای ولایتی Provincial Council Member name | دشتوالي په وخت کي نښه وکړئ درصورت حضور صحه بگذارید In Attendance (Tick) | لاسلیک یا د ګوتې نښه امضا یا نشان انگشت Signature / Thumbprint | دلومړي پړاو رای پاڼه ترلاسه شوه / نښه وکړئ ورق رای دور اول دریافت شد را صحه بگذارید 1st round ballot received (Tick) | د دویم پړاو رای پاڼه ترلاسه شوه/ نښه وکړئ ورق رای دور دوم دریافت شد را صحه بگذارید 2nd round ballot received (Tick) |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | | |
| ۲ | | | | | |
| ۳ | | | | | |
| ٤ | | | | | |
| ٥ | | | | | |
| ٦ | | | | | |
| ۷ | | | | | |
| ۸ | | | | | |
| ۹ | | | | | |
| ۱۰ | | | | | |
| ۱۱ | | | | | |
| ۱۲ | | | | | |
| ۱۳ | | | | | |
| ۱٤ | | | | | |
| ۱٥ | | | | | |
| ۱٦ | | | | | |
| ۱۷ | | | | | |
| ۱۸ | | | | | |
| ۱۹ | | | | | |
| ۲۰ | | | | | |
| ۲۲ | | | | | |
| ۲۳ | | | | | |
| ۲٤ | | | | | |
| ۲٥ | | | | | |
| ۲٦ | | | | | |
| ۲۷ | | | | | |
| ۲۸ | | | | | |
| ۲۹ | | | | | |

فورمه م - ۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۰ . دټاکنو د خپلواک کمیسیون د دار الانشاء دکارکونکي نوم
اسم کارمند دار الانشای کمیسیون مستقل انتخابات / Name of IEC Official : ____________________

لاسليك / امضا / Signature : ____________________ نېټه / تاريخ / Date : / /

۳۱. د سرپرست مامور نوم
اسم مامور سرپرست / Name of Presiding Officer : ____________________

لاسليك / امضا / Signature : ____________________ نېټه / تاريخ / Date : / /

فورمه م - ۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ينځمل: د ټاکنو د پایلو د راپور -م-۳۰ فورمه واچوئ

### د ۱۳۸۵ کال د مشرانو جرګي ټاکني
د ټاکنو د پایلو د راپور م - ۰۳. فورمه

### انتخابات مشرانو جرگه سال ۱۳۸۵
فورمه راپور نتایج انتخابات م - ۰۳

*Meshrano Jirga Elections 2006*

**M03-MJ Election Returns Form**

---

لومړی برخه / بخش اول :دمشرانو جرګې دټاکنو جزئیات/ جزئیات انتخابات مشرانو جرگه / MJ Election Details - SECTION I

۱ ولایت / ولایت
Province

۲ د ولايتي شورا د ټولو غړو شمېر
تعداد مجموعی اعضای شورای ولایتی
Total number of Provincial Council members

۳ د ولايتي شورا د حاضرو غړو شمېر / تعداد اعضای حاضر در شورای ولایتی
Number of Provincial Council members present

٤ د ولايتي شورا د مجلس نصاب(۳/ ۲ غړي)پوره دی ؟ / آیا نصاب وجود دارد(۲/۳ اعضای شورای ولایتی)؟
Is there a quorum (2/3 of the Provincial Council)?

هو / بلی Yes — نه / نخیر No

٥ په لومړي پړاو کې دیو کاندید د انتخاب لپاره د اړینو رایو شمېر(دحاضرو غړو له نیمایي څخه زیات )
تعداد آرای مورد نیاز برای انتخاب کاندید در دور اول (بیش از نصف اعضای حاضر )
Number of votes needed for candidate selection in the first round (more than half of members present)

---

دویمه برخه / بخش دوم : د لومړي پړاو دټاکنو پایلې / نتایج انتخابات دور اول / First Round Election Results - SECTION II

٦ د هر کاندید د ترلاسه کړو رایو شمېر داخل کړئ تعداد آرایی را که هر کاندید به دست آورده درج نمائید
Enter the number of votes each Candidate received

| د رایو شمېر / تعداد آراء<br>Number of Votes | کاندید / کاندید<br>Candidate | شمېره / شماره<br>Number |
|---|---|---|
| | ترټولو ډيري رایې / بیشترین آراء<br>(most votes) | ۱ |
| | | ۲ |
| | | ۳ |
| | | ٤ |
| | | ٥ |
| | | ٦ |
| | | ۷ |
| | | ۸ |
| | | ۹ |
| | | ۱ |
| | | ۱۱ |
| | | ۱۲ |
| | | ۱۳ |
| | | ۱٤ |
| | | ۱٥ |

فورمه م - ۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۱۶ | | |
| ۱۷ | | |
| ۱۸ | | |
| ۱۹ | | |
| ۲۰ | | |

۷ کاندید دحاضرو غړو له نیمايي څخه زیاتي رايي ترلاسه کړي که نه ؟

(یادونه: ترلاسه کړي رايي باید په ۵ مه پوښتنه کې د ښودل شوي شمیر سره برابري یا زیاتي وي که ځواب هو وی نو ۱۱ مي پوښتني ته ولاړ شئ )

آیا کاندید ردیف اول بیش از نصف آرای اعضای حاضر را بدست آورده است یاخیر؟

(یادداشت: تعداد آراء باید یکسان یا بیشتر از تعداد آرایی باشد که در سوال پنجم ذکر گردیده است در صورت بلي به سوال یازده هم مراجعه نمایید

Did the candidate listed in row 1 receive votes from more than half the members present?
(Note: the number of votes must be the same or higher as the number listed in question 5 . If yes, go to question 11)

هو / بلی ☐ Yes    نه / نخیر ☐ No

---

## درېمه برخه / بخش سوم : د دویم پړاو دټاکنو پایلي / نتایج انتخابات دور دوم / Run-Off Election Results - SECTION iii

۸ د دویم پړاو رايي اچونې ته بوازي د دوو کسانو د پاتېکېدو لپاره د لاندي کاندیدانو تر منځ واچول شوه (که پچه اچول شوې نه وي بلې پوښتنې ته تېر کړئ )

بمنظور داخل شدن دوتن به دور دوم رای دهی درمیان کاندیدان ذیل از قرعه استفاده بعمل آمد (در صورتی که از قرعه استفاده نشده باشد به سوال بعدی بپردازید )

Lots were drawn among the following candidates to decide which two would advance to the run-off election. ( *If lots were not drawn, go to the next question).*

| شمېره / شماره Number | کاندید / کاندید Candidate | دانتخاب په صورت کې خانه په نښه کړئ / درصورت انتخاب چوکات را صحه بگذارید Tick box, If selected |
|---|---|---|
| ۱ 1 | | |
| ۲ 2 | | |
| ۳ 3 | | |
| ٤ 4 | | |

۹ د دویم پړاو دټاکنو پایلي /نتایج انتخابات دور دوم
Run-Off Election Results

| شمېره / شماره Number | کاندید / کاندید Candidate | د رایو شمېر / تعداد آراء Number of Votes |
|---|---|---|
| ۱ 1 | | |
| ۲ 2 | | |

۱۰ په دویم پړاوکې د کاندیدانو له خوا دیو برابر رایو د وړلو له امله د کاندید _____ او کاندید _____ تر منځ پچه واچول شوه کاندید _____ انتخاب شو

در نتیجه تساوی در انتخابات دور دوم بین کاندید _____ و کاندید _____ قرعه کشی صورت گرفت کاندید _____ انتخاب گردید

Following a tie in the run-off election, lots were drawn between candidate____ and candidate____. Candidate___ was selected. (*If lots were not drawn, go to the next question).*

که پچه اچول شوي نه وي بلې پوښتنې ته لاړ شئ

هرگاه قرعه کشی صورت نگرفته بود سوال بعدی را پیش گیرید

*(If lots were not drawn, go to the next question).*

فورمه م - ۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورمه برخه / بخش چهارم : وروستي پایلې / نتایج نهایی / Final Results - SECTION IV

۱۱ کاندید ______ مشرانو جرګې ته انتخاب شو

کاندید ______ به مشرانو جرگه انتخاب گردید

Candidate ______ was selected to the *Meshrano Jirga*

| | |
|---|---|
| لومړی پړاو /دور اول<br>1st Round | ☐ |
| دویم پړاو /دور دوم<br>Run-Off | ☐ |
| پچه /قرعه<br>Lots | ☐ |

| | | |
|---|---|---|
| ______<br>دانتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشا د کارکوونکي نوم<br>نام کارمند دار الانشای دفتر مشترک تنظیم انتخابات<br>Name of JEMBS Official | ______<br>لاسلیک<br>امضاء<br>Signature | نېټه / تاریخ /Date ___/___/___<br>ورځ / میاشت/ کال<br>روز / ماه / سال<br>Year / Month / Day |
| ______<br>دسرپرست مامور نوم<br>نام مامور سرپرست<br>Name of Presiding Officer | ______<br>لاسلیک<br>امضاء<br>Signature | نېټه / تاریخ /Date ___/___/___<br>ورځ / میاشت/ کال<br>روز / ماه / سال<br>Year / Month / Day |
| ______<br>د ټاکنو د ولایتي کمیسیون د استازي نوم<br>اسم نماینده کمیسیون ولایتی انتخابات<br>Name of PEC Representative | ______<br>لاسلیک<br>امضاء<br>Signature | نېټه / تاریخ /Date ___/___/___<br>ورځ / میاشت/ کال<br>روز / ماه / سال<br>Year / Month / Day |

فورمه م - ۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم مل: د کاندید د نومونې دبیرته اخیستلو- ن - ۰۳ فورمه واچوئ

**د ۱۳۸۴ کال د ولسي جرګې او ولایتي شورا ټاکنې**

د کاندید د نومونې دبیرته اخستلو ن – ۰۳ نمبر فورمه
CANDIDATE NOMINATION N03 - WITHDRAWAL FORM

---

لومړۍ برخه: دکاندید په هکله معلومات
Candidate Information - SECTION 1

ټاکنې / Election — ولسي جرګه / Wolesi Jirga ☐ — ولایتي شورا / Provincial Council ☐

ولایت / Province: ______ — دکوچیانو انتخاباتي حوزه / Nomad constituency ☐

دکاندید نوم / Name of Candidate: ______ | ______ | ______

دکاندیدنمبر / Candidate Number: ☐☐-☐☐-☐☐☐☐

د رایه ورکوونکي د نوم لیکنې دکارت شمېره / Voter Registration Card Number: ☐☐☐☐☐☐☐☐

---

دوهمه برخه: د نومونې د بېرته اخستلو په هکله د کاندید څرګندونې
Candidate Statement of Withdrawal - SECTION 2

زه پدې توګه په پوره ډیوپاد شوو ټاکنو کې د کاندید په توګه د دریدو څخه خپله نومونه بېرته اخلم
I hereby withdraw my nomination to stand as candidate in the above election.

زه منم چې د نومونې لپاره خپله ګټون ونډه ______ افغاني مې بېرته ترلاسه کړې دي
I confirm I have received the sum of _ Afs. as refund of my deposit for nomination.

دکاندید لاسلیک / Signature of Candidate: ______

نېټه / Date: ورځ / Day ___ / میاشت / Month ___ / کال / Year ___

---

درېیمه برخه : د کتنې لست، دټاکنو د خپلواک کمېسیون د دارالانشا د مامور له خوا باید ډک شي
To be completed by JEMBS Official - Checklist - SECTION 3

☐ د رایه ورکوونکي دنوم لیکنې کارت وړاندې شوی دی
Voter Registration Card Presented

☐ دنومونې ګډون ونډه بېرته ورکړای شوې دی
Nomination Deposit Refunded

☐ دنومونې د تصدیق رسید بېرته سپارل شوی دی
Nomination Confirmation Receipt Returned

دټاکنو د خپلواک کمېسیون د دارالانشا دمسؤول مامور لاسلیک / Signature of JEMBS Official: ______

نېټه / Date: ورځ / Day ___ / میاشت / Month ___ / کال / Year ___

نوم / Name: ______ — دنده / Position: ______

فورمه ن – ۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم مل: شکایتونه

که چېرې د رايې ورکولو او د ټاکنو د ټولو بهيرونو په ترڅ کې، څوک باور لري چې له قانون او کړنلارو څخه سرغړونه شوې، کولی شي چې شکایت وکړي. دې کې لاندې سرغړونې شاملې دي:

- چېرې چې له بهيرونو او کړنلارو څخه په سمه توګه پيروي نه وي شوي
- چېرې چې د ټاکنو د کارکوونکو لپاره د ټا کنود خپلواک کميسيون له کړنـدود څخـه سرغړونه شوې وي.
- چېرې چې د ټا کنوخپلواک کميسيون د دارالانشاء د کارکوونکو له خوا د يو کس خدمت رد شوی وي.

يو کس هغه وخت شکايت کولی شي کله چې د هغه/هغې په اند د ټا کنو د خپلواک کميسيون د دارالانشاء کارکوونکي يا کتونکي، خبري رسنۍ يا ځانګړو ميلمنو په سمه توګه ټاکلي کړنلارې نه وي پلي کړي. هر هغه څوک چې په ټاکنيز بهير کې لېوالتيا ولري، شکایت کولی شي، چې د ټا کنو د کمېسيون له خوا يې په هکله پرېکړه کېږي. نو ځکه د ټاکنو ولايتي کمېسيون د هر چا شکايت مني.

## شکایتونه او د ټاکنود خپلواک کمېسيون:

د ټاکنو خپلواک کمېسيون يوه اداره ده چې د ټاکنيز بهير اړوند شکايتونو په اړه د قضاوت لپاره جوړ شوی دی. هر هغه څوک چې په ټاکنيز بهير کې قانوني لېوالتيا ولري او ادعا کوي چې د ټاکنو له قانون يا کړنلارو څخه سرغړونه شوې، کولی شي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته شکايت وکړي. همدارنګه، د ټاکنوخپلواک کمېسيون کولی شي چې پخپل نوښت سره د ځينو مسئلو او ستونزو د حل لپاره لاس په کار شي.

## کله او چېرته بايد شکايت وړاندې شي؟

- د ټاکنو په ورځ او ترهغه پورې چې دمشرانو جرګې د ټاکنو پايلې تصديق نه شي، شکايت وړاندې کېدای شي.
- شکايت بايد تر پوښتنې لاندې پېښې د پيښېدو په پنځو ورځو کې دننه دننه وړاندې شي.
- کېدای شي چې شکايت د ټاکنو ولايتي دفتر ته وسپارل شي څو له هغه ځايه په کابل کې د ټاکنودخپلواک کمېسيون مرکزي دفتر ته واستول شي او يا په کابل کې د ټاکنودخپلواک کميسيون د درالانشاء د مرکزي دفتر په ګډون د دارالانشاء ټولو دفترونو ته وسپارل شي.
- که چېرې شکايت کوونکی ګومان کوي چې په سيمه ييزه کچه سپارل شوي شکايت ته به ارزښت ورنکړل شي، يا به ورته کومه امنيتي ستونزه پيدا کړي، کولی شي چې خپل شکايت د ټاکنو دخپلوا ک کمېسيون د پوستې په صندوق کې، چې د هغه د دارالانشاء په هر ولايتي دفترکي ځای په ځای شوي دي، واچوي او يا يې نېغ په نېغه په کابل کې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون مرکزي دفتر ته واستوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شکایت څنګه وړاندې کېږي؟**

- تر کومه ځایه چې شوني وي، شکایتونه باید د شکایت پ     تې خ ک ۰۱ فورمه کې وسپارل شي. که څه هم په نورو پاڼوکې لیکل شوي شکایتونه به هم منل کیږي چې هغه ټول معلومات ولري چې د ټاکنود خپلواک کمېسیون د شکایتونو په   تې خ ک – ۰۱ فورمه کې غوښتل شوي.
- د ټاکنو ولایتي کمېسیون د شکایت  تې خ ک – ۰۱  فورمې اضافي کاپیانې لري.
- د شکایت  تې خ ک – ۰۱   فورمه باید په پښتو، دري یا انګلیسي ژبه ډکه شي او د ټا کنو ولایتي کمېسیون او یا پورته یاد شوي کوم بل ځای ته وسپارل شي.
- شکایت کوونکی کولی شي چې په محرمانه ډول فورمه ډکه او وسپاري. که څه هم د غوښتنې په صورت کې د شکایتونو ولایتي کمېسیون  کولی شي چې د شکایت د تې خ ک ۰۱ فورمې په ډکولو کې مرسته وکړي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**